# وروستنی تاریخي جریان او زموږ ادب

له ۱۲۵۰ هـ راپدېخوا په یوه پېړۍ کي د پښتو ادب لوی اوښتون وموند او د دې بدلون آر سببونه چي پښتو ادب ته یې نوې جوله (قیافه) ورکړې ده، په لاندي ډول ښوول کېږي.

(۱) په دې وخت کي د اروپا د مدنیت صنعتي دوره پیل سوې وه، او پر هندوستان باندي د انګرېزانو استعمار بشپړ سوی و، او هندوستان ته د نوي مدنیت او صنعت اغېزې رارسېدلي وې، د انګرېزانو حکومت په هندوستان کي د اداري او څارني او امنیت او پېیون نوي دودونه او لاري دود کړي وې، او په ټول هند کي یې د تګ راتګ لاري او د اورګاډو پټلۍ جوړي کړي وې، نوی فکر او د مدنیت نوي دودونه، او نوي پوهني او ښوونځي په ټول هند کي منځ ته راغلي وو. جراید او مطبوعات هم په انګرېزي ژبه او هم د هند په ژبو خپرېدل.

چاپخانې او د کتابونو د خپرولو وسیلې هم ډېري سوي وې، انګرېزان له دغسي یو قوي مدني رعاوني سره د اباسین غاړو ته راورسېدل، دوی د پښتوخوا یو فرهنګي مرکز پېښور هم ونیوی، او په ۱۸۳۹ کال یې پر افغانستان هم یرغل وکی، دلته نو د دغه اجتماعي او سیاسي کیفیت اثرونه د پښتنو پر ژبه او ادب او ثقافت باندي لازمي وو، نو ځکه د پښتو نظم او نثر دواړه تر دغو اغېزو لاندي راغله. په نثر کي رواني او له ګړدود سره برابره لیکنه، چي خوشحال خان یې بنسټ ایښی و، ښه دود سوه او ځیني پښتو کتابونه یا اخبارونه هم په دغه ډول منځ ته راغله. نظم هم په هغه پخواني قالب کي وده وکړه او ځیني نوي سبکونه هم دود سول.

(۲) د اروپا د مدنیت او صنعتي غورځنګ اغېزې پر پښتونخوا باندي د ایران له خوا او د شمالي روس له خوا هم راغلې، تجارتي تګ راتګ او سیاسي اړیکي له روس او ایران سره پیدا سوې او د شمال له خوا هم د روس د اورګاډو پټلۍ تر بخارا او خیوا پوري راورسېدې، دلته نو له هري خوا څخه داسي قوي اغېزې پښتونخوا ته متوجه سوې چي د پښتنو فکر او ادب یې هرو مرو تر ټینګ اغېز لاندي راووست، نو اوس موږ وینو چي په پښتو ادب کي نوی فکر او د نوي مدنیت اغېزې پیدا کېږي. خلك د هیواد او آزادۍ او د نوي ژوندون په فکر کي لوېږي او کله چي د ۱۹۱٤ کال په شاوخوا کي لومړنی عمومي جنګ پیل سو، نو دلته پر شرقي ټولو ملتو لکه : هندوستان، افغانستان، ایران، دولت عثماني او عربو باندي د اروپا استعمارچیانو یا سیده سیاسي لاس بری او یا دا چي دغه هیوادونه تر اقتصادي او کلتوري اغېزه لاندي راغلي وو، نو په ټولو هیوادو کي د داخلي آزادۍ فکر پیدا سو او لومړی پلا سید جمال الدین افغان له کونړه وپاڅېد، ده په هندوستان، ایران، مصر او ترکیه کي داسي یو فکر پیدا کړ، چي دغه بیده ملتونه یې راویښ کړل او په دوی کي یې د مبارزې دوه ډوله حرکتونه راښوول : اول : دا چي بیده ملتونه باید د پردو له استعماره څخه ځانونه آزاد کي. دوهم : دا چي دغه مظلوم ملتونه له داخلي استبداده څخه ځانونه وژغوري، او داسي حکومتونه جوړ کړي چي هغه حکومتونه د خلکو د دیموکراسي حقوقو ساتونکي وي، او دغه خلك وکړای سي چي خپل ملي قوتونه د ځان د نېکمرغۍ له پاره په کار واچوي، د سید جمال الدین دغه تبلیغ و، چي په هند کي د آزادۍ حرکت ډېر سو او هغه پښتانه چي د افغانستان په ختیزو خواوو کي د انګرېزانو د استعمار تر اثر لاندي سوي وو په هغو کي د آزادۍ احساس وخوځېد او د پښتو ادب ته یې د آزادۍ خواهۍ او وطن پرستۍ نوې جذبه راوړله او دغه اثر و، چي د پښتو ادب په نثر او نظم کې د فکر له پلوه نوی تحول راووست.

(۳) په دې وروستۍ دوره کي د پښتو په نظم او نثر دواړو کي د ژباړې حرکت هم پیدا سو، ځیني کتابونه له اردو او انګرېزي څخه او ځیني هم له عربي او فارسي څخه په پښتو ترجمه سول، مثلاً : نعمان الدین احمد

کاکاخېل د ابن بطوطه (سفرنامه) او قاضي عبدالقادر پېښوري عسکري نومونه او اصطلاحات له انګرېزي څخه په پښتو ترجمه کړه. غلام محمد پوپلزی چي د چارسدې اوسېدونکی و، د مولانا حالي اردو مدوجزر اسلام یې په پښتو منظوم کی او منشي احمد جان د افغانستان تاریخ له انګرېزي څخه په پښتو راواړاوه، د ترجمې دغه حرکت و، چي د ځانه سره یې نوي فکرونه او د مدني ژوند اساسونه، هم راوړل، او پښتو ادب ته یې یو نوی ادبي تحول ور وباخښه، په دې ترجمه کي شاعران او لیکوالان دواړه مجبور وه، چي په داسي ژبه خبري وکي چي لوستونکي یې په مطلب ښه پوه سي. نو له دې جهته هم په نظم او هم په نثر کي رواني او شګفتګي موجوده سوه.

خلك خپل قدیم تاریخ ته متوجه سول، او د اروپا د مدنیت او د ژوند د نوي فلسفې فکرونه هم په نثر کي وارد سول، او هغه فکري انقلاب چي د ۱۹ قرن له ملي او قومي نهضتونو سره راغلی و، د پښتو ادب ته یې هم نوې ښکلا، نوې مفکوره او نوي تغیرونه ور وبخښل.

(٤) په دغه دوره کي ځیني شاعران او لیکوال داسي هم وو، چي دوی داستاني ادب ته توجه وکړه، ځیني لیکوالو هغه کیسې او داستانونه نظم کړل چي په خلکو کي مشهور وو. د دې ډلي مشهور استاذ ملا نعمت الله د نوښار اوسېدونکی و، چي ډېر کتابونه یې چاپ سوي دي. د دې ډلي بل شاعر ملا احمد جان د پېښور اوسېدونکی و، چي ډېر داستانونه یې په نظم لیکلي دي. بل د دې ډلي شاعر احمد په قوم اخوندخېل دئ چي څو کیسې یې چاپ سوي دي، د دې ډلي ادبي اثرونه د تاریخ او مفکورې له پلوه کوم ارزښت نه لري، فقط ژبني او نظمي ارزښتونه یې د یادولو وړ دي.

(۵) په دې دوره کي ځیني کتابونه د تعلیم او ښووني په مقصد هم لیکل سوي دي، په افغانستان کي د پښتو زده کولو له پاره ځیني داسي کتابونه ولیکل سول او د پښتو ژبي قواعدو او ګرامر ته هم توجه وسوه. د پښتو د لومړني لوست کتابونه د کابل په مدرسه حبیبیه کي مرحوم مولوي صالح محمد کندهاري ولیکل، او بیا په پېښور کي هم دغسي نور کتابونه چاپ سول، چي دا حرکت هم د پښتو د ژوندانه له پاره ډېر ګټور و.

کوم کتابونه چي د دیني ښووني له پاره په پښتو لیکلي سوي دئ، هغه
هم په دغه ډول ادب کي داخل دي، لکه : د ملا عبدالباقي افغان تبیین
الواجبات یا د دوست محمد ختك تفسیر بدر منیر او بحرالعلوم، یا د
فیض محمد لوګري روضۀ المجاهدین، یا د کامې د مرادعلي صاحب زاده تفسیر یسیر.

(٦) په دې دوره کي د شعر او ادب یوه بله عامي او وګړنۍ ډله هم سته، چي د پښتنو په کلو او بانډو کي نالوستي شاعران دي او دوی د خلکو په عامه ژبه شعر وایي، او کله کله د ملي تاریخ ځیني ستري پېښي او د ملي پهلوانانو کارنامې پخپل شعر کي څرګندوي.

دا ډله شاعران یقیناً د عامو خلکو د فکر او ژبي او اخلاقو نماینده ګي کوي. دغه ډول ادب د پښتو سوچه ځانګړي شعري وزنونه او ادبي بحرونه هم راښیي، او موږ په پښتو ژبه کي په سوو داسي ملي او وګړني شاعران، لکه: محمدجي، خدایرحم. عبدالودود، توکل، کمال، نوروز، ملا میران او نور لرو. د دې ډلي شاعري بې تکلفه او ارتجالي او ساده ده. دوی د ژوندانه بېلابېلي پېښي په ساده ژبه د عوامو د فهم سره برابروي او د ملي ژوند پټ اړخونه لوڅوي، مثلاً کله چي په اول جنګ کي انګرېزانو کابل ونیوی، دلته نو دغسي یو وګړني شاعر د خلکو د زړه درد په یوله بدله کي تصویر کی، او وې ویل :

خالقه لا یزاله
بې شـــــــــریکه بې زواله !
ایمان مي خـــــطا مه کړې

فرنګ ورك کړې له کابله
زاري مي نشته بله

وګورئ په دې شعر کي د عامه احساس څنګه نمايندګي سوې ده؟ چي تر ايمان وروسته يې وطن په ياد دئ، او د پرنګي ورکېدل يې له کابله څخه لومړنۍ دعا ده.

د افغانستان په بل ملي جنګ کي يوه بل وګړني شاعر د پښتنو مېړمنو اشتراك په غزا کي داسي بيان کړی دئ :

چا يې پلو ليدلی نه و، اوس د جمرود پر غاړه ځي سرتور سرونه
پر کابل جنګ دئ

دا خلك چي داسي شعرونه يې ويل، ټول پښتانه وو، دوی له خپله هيواده او خپله سياسي مرکزه سره څوني مينه درلوده؟ د جمرود د پښتنو مستوري پېغلي به د جنګ ميدان ته وتلې، دا ولي چي پر کابل جنګ و او دا د دوی سياسي او ثقافتي مرکز و.

په دې ډول د ۱۹ قرن تاريخي جريان په پښتو ادب کي داسي اثرونه کړي دي[۱].

(۱) ورمه مجله، ۱۳۵۱ش کال، شپږمه ګڼه، ۱ - ۵ مخونه.